مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان
٢٠٢٣/٠٢/١٠

# د شاعر افسوس

د سیالکوټ په کوم کور کې چې د اردو ژبې مشهور ادیب فیض احمد فیض صیب اوسېده، د هغه کور مخامخ یوه نجلۍ اوسېده، چې د فیض صیب خوښېدله او پرې مئین و. خو یوه ورځ چې فیض صیب له کالجه بیرته راستون شو، نو هغه انجلۍ هلته نه وه.

اغا ناصر په خپل کتاب کې لیکلي:

«کلونه وروسته چې فیض مشهور شو او بیرته خپل ښار ته راغی، نو هغه نجلۍ هم له کومه ځایه راغلې وه. د هغې خاوند هم له فیض صیب سره د لیدلو لېواله و. فیض راته وویل:

کله چې له هغې انجلۍ سره مخ شوم، راته ویې ویل:

زما خاوند څومره ښکلی دی! په همدې موقع مې یو نظم ولیکه چې یوه مسره یې دا ده:

**تو نے دیکھی ہے وہ پیشانے وہ رخسار وہ ہونٹ**
**زندگی جن کی تصور میں لٹا دی ہم نے**

ژباړه:

**تا لیدلی هغه مخ، هغه رخسار، هغه شونډې**
**د کومو تصور کې چې موږ ټول ژوند قربان کړ»**

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ